پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

-----------------------------------

# پاکستانی حاکمان دی خپل سر خلاص کړي!

تا سی اود تا سو پیروان دانګلیس په لار ښونی د امریکی د متحده ایالاتو په ما لی او تخنیکی مرستو اود سعودی عربستان دوها بی آین او مذ هب په پیروی د ریښتینی اسلام اود پښتون قام پر ضد په دغه سیمه کی حالات مو هومره دړی وړی او خړی پړی کړل چی په دغه منطقه کی بوټی ، کانی ، او ........دبی ګناه خلکو په وینو سره رنګ واخیست ، تا سی د تروریستا نو د ضد شعا ر په ورکولو سره پخپله تروریستان یا ستی چي ددی ادعا ثبوت د تاسو پواسطه سره افغانستان ته دتروریستانو اود ځان وژنی دعا ملا نو لیږدونه اوهم په قبا یلی سیمو کی د تروریستا نو د وژنو په پلمی سره د پښتون د قام د مشرانو وژل او ټکول دی چی اوس د د یورند د کرښی د هغه غاړه پښتا نه د ستا سود کرغیرن ځیرو په رسوا کولو را پاڅيد لی اودخپلو عزیزانو دلا درک کید و پوښتنه د تاسو څخه کوی - تاسی یو ځل سر خپل ګریوان ته ښکته کړی او له خپل ځان څخه پوښتنه وکړی چی پښتون قام څوک دی ؟ اودڅه کرکتراودهویت څښتن دی ؟ د تاسی موجوده ټاټوبی دانګلیس په اراده اودسیا سی اسلام د تیوری پربنیاد اودهند اود ا فغا نستا ن دځمکو په قبضه کړشوی خا وره کی رامینځته شو چي دهغه اصلی دلیل دانګریزانو ډارد تزاری روسی څخه وه او داچی امیرعبدارحمان خان دانګلیس تر اداری لاندی مجبورکیږی چی دغه سیمه دخپل واک څخه د یو لنډ مودی د پا ره دلاسه ورکوی دا په دی معنی نه دی چی خپل خا وره چا ته پخپل خوښه ور سپا رلی دی چی دا دوه شی سره کا ملاً تفا وت لری یعنی پرځمکه با ندی تر یو مودی پوری اختیار نه لرل او یا بلکل ځمکه پرچا با ندی خرڅول کوم چی دغه معامله هم دهند اود افغانستان تر مینځ صورت نیولی دی او د هغه وخت دی چی چا دپا کستان په نوم کوم ملک نه پیژانده دا تاسی چی خپل هیواد د پا کستا ن په نوم یادویی دا په واقیعت کی دانګریزانو اود امریکی د متحده ایالاتو یوه نظا می اډه دی نه یوهیواد ، ځکه چی یوهیواد رسمی پولی لری داکثریتو رسمی ژبه اوځانته ځانګړی فرهنګ لری ، حا ل داچی تاسی دهند اودافغانستان له فرهنګ څخه په ګټه اخیستو سره د فرهنګ ادعا کویی لکه چی ټولوته معلوم دی حتي ستا سی ملی سرود دری «فارسی» دی اویا داچی تا سی هر نوی نها دونه یا نوی تکنالوژی ته افغا نی نومونه ورکوی ځکه چي تا سی کوم ځانګړی ،منل شوی فرهنګ او ثقافت نه لری ، دبل چا پرخاوره دملکیت دعوا کویی اوبیا خصوصاً چی غواړیی چی پښتانه تر خپل حاکمیت لاندی راولی اویا داچی دمید یا دلاری نړی ته خپل شکا یت وړاندی کوی چی افغانستان زمونږ په چاروکی لاس وهی حال داچی دا تاسی یاستی چی

تروورستان ، غلو ، داړه مارانو او مجرم خلکو ته پناه ورکويې اوياداچي د پښتون د قام مشران د تروريست په نامه سره وژنی اوبيا دهغه په بدل کی له امريکی څخه پيسي تر لاسه کويی ... دا نو په ښکاره ښيی سره منا فقت او رزا لت څخه بل شی نه دی کوم چی تا سی په دی برخه کی د پوره مهارت خاوندان ياستی - اوس نو هغه څه چی مو کرلی هغه وريبی .

پنجا بيه اوس ککره دی ما تيږي
پښتا نه نورځپه خوله نه پا تی کيږي
له آمو نه تر آ ټک د غچ نا ري دي
پښتنو له لر اوبر سره ټوليږي
کراچی کی هم پښتون قا م پا څيد لي
د هغو رګو کی وينی هم ختيږي
د خلاصون لاره دی بند دی پنجا بيه
دی سيلاب ته شګلن بند نه ټينګږی
په دی پوه شه چي پښتون آزاديخواه دي
بندګی د هيڅ پښتون نه خوښيږي
که طا لب ستا فرما ن منی ناپوه دي
که هوښيا ر شي دخپل قام پسی دريږي
پا نګونه دی طا لب با ندی بيځای دي
اوبو هيڅکله په ډانګ نه بيليږي
چي په وسه دی څه وه هغه دی وکړ
اوس پښتون له انتقا م خپل نه تيريږي
له ا نګليس لمن نه کل چی وتلي؟
آوامر دی پښتنو کی نه چليږي
مکا ری او چلول دی ډيره وکړ
پښتا نه نورستا په چل هيڅ نه غوليږي
**

د ډيورند کرښه دی پلارچی کش کړی

پښتانه ها کربنه هیڅ نه دی منلی
ولی یو وروړ د بل وروڼه جدا شی
دا په کوم یوه قاموس کی لیکلي؟
دا چي ته وایی دا خط زمونږ سرحد دی
پښتانه ستا په خبرو خندیدلی
د دی خط په دواړه خوا پروت پښتون
یو او بل ته سره هر وخت رسیدلي
یوه ژبه یوه خاوره یو فرهنګ
پښتون کله پنجابی ته وروړ ویلي
پښتنو باندي دا ورځی به شي تیر
پښتنو په حقیقت اوس پوهیدلي
شادی بازه پنجابیه بی فرهنګه
اوس دی لمردغره تر شا را ولویدلي
د پښتون د تحفظ غورځنګ مشران
د پښتون قام رهبری په لاس نیولي
میندی خویندی لر او بر د پښتنو
د غورځنګ تر شا ډیر کلکه دریدلي
«مله » زیری می درباندي تحفه راکه
ځوان« منظورپښتین» رهبرخپل تاکلي
****

**پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»**

(2018-06-06)